# پښتانۀ

(د غني خان د کتاب ترجمه)

نهم باب

## بدل

ترجمه: عابد خان

شېرخان د کلي د يو کمزوري او نېک او عبادت گزاره خان زوئے ؤ، په کلي کښې به د هغۀ ترونو تربورانو د طاقت او مشرۍ د پاره د نورو سره او په خپلو کښې مقابلې کولې خو د شېرخان پلار به چا نۀ په عذابوو ځکه چې هغه ډېر نېک عمله، عاجز خويه او د خپل کار سره کار لرونکے سړے ؤ، چونکې هغه په دې دنيا ډېر بې وسه او کمزورے ؤ نو ځکه د هغه بلې دنيا د پاره ئې ډېر امېدونه او منصوبې لرلې، هغۀ به د ملايانو په شان دستار تړلو او سپينې جامې به ئې اغوستې. هغۀ د تماچې ټوپک په ځائے تسبې او جانماز خپل کړي وو او د حجرې په ځائے ئې د جومات گُټ نيولے ؤ.

د هغۀ په ذهن کښې د زورورو تربورانو ويره او د زورور باچا الله ج ويره سره گډه وډه شوې وه. د غه وړوکي تن غوښتل چې غټ بزرگ او ولي جوړ شي او نتيجتاً ئې خپل د مزاج حس (Sense of Humour) بائللے ؤ. هغۀ به د نسوارو، سگرېټو او چيلم خلاف تبليغ کولو، لويه ډېره ئې پرېښودې وه او په مخ به ئې چرې هم مسکا او خندا نۀ راتله. هغه په خپل کمزورۍ ځيگر د نېک روح او تقويٰ گمان کړے ؤ خو د دغه غلط گمان ټول زور او نقصان ئې ښځې برداشت کوو.

ولې د هغۀ زوئے شېرخان د زور او طاقت يو غر ؤ او د هغۀ ښځه د ارمانونو تصوير ؤ ځوک چې يو کمزوري او ناتوانه سړي ته وادۀ شوې وه، شېر چه لا وړوکے هلک ؤ نو هم پلار به ئې ورسره د وهلو ټکولو جرات نۀ کوو او کله چې هغه نولس کلن شو نو يو طاقتور، مغروره او سرکشه ځوان ترې نه جوړ شو. هغۀ به د خپل کمزوري او ناتوانه پلار سره د گستاخۍ او سپکاوي سلوک کوو او د خپلې وړې خو کلکې او تکړه مور نه به بې پروا او بې نيازه ؤ خو مور او پلار دواړو به د شېر سره دومره مينه کوله چې سم عبادت به ئې ورله کوو.

د شېرخان پلار په خپل زوئي کښې هغه څۀ ليدل کوم چې ئې په ځان کښې نۀ ليدل يعنې غټ کټ او طاقتور وجود، درونــد او رُعبداره شخصــيت، زور، زړورتيــا، غــرور، روښــانه او رقصانه ښائسته سترگې او ښکلې څهره. د شېر په مور به د هغۀ غټ درونـد اواز ډېر ښۀ لگېدو او د پلار د نري کړينگي اواز په مقابله کښې به ورلـه د شېر اواز ډېر خوند ورکوو. مور او پلار دواړه په شېر ډېر مئين وو خو شېر به دواړه د ښو خاورې گڼل. البتـه هغـۀ بـه د کلي د همځولـو هلکـانو او دوسـتانو سـره ډېـره مينـه لرلـه. ورځ او شـپه بـه د هغــوي ســره مشــغول ؤ. ناســته پاســته، خــوراک

ښناک او خبرې اترې، هر څۀ به ئې هم د خپلو دغو ملګرو سره وو، د هغوي سره به ښکارونو له تلو، جوارې به ئې ورسره کوله او هم د هغوي سره به په حجره کښې څملاستو. هغه پوهېدو چې خپل ملګري څنګه هم مرعوبه او هم په ځان مئين وساتي او په دې چل هم پوهېدو چې دغه رُعب او دغه مينه او ملګرتيا څنګه په کار راولي.

د شېر دا خوبيانې د هغۀ د ترۀ، دلبر خان په نظر کښې وې، دلبر خان زوړ بدمعاش او زورور سړے ؤ، غټې ښکلې مخ خو لکه د هاتي وړې وړې سترګې ئې لرلې. دلبر خان يو غټ خوراکي او لوئے ښکاري او بدنام جوارګر ؤ او تل به قرضدارے ؤ. د هغۀ سخاوت او مېلمه دوستي مشهوره وه او لکه د تندر د ګړزهار په شان په خندا به ئې هر چا ته هر کلے او په خير راغلے وئيل. د دې مينه ناک او خوږ بوډا خو زوړ شيطان، دلبر خان به خپل کمزورے او مُلا تهارے شان ورور، يعنې د شېر پلار ډېر زيات بدې شو ځکه چې هغۀ به ورته هر وخت مرګ او اخرت او د اخرت عذابونه وريادول. هېڅ يو په ژوند مئين او د ژوندي زړۀ خاوند چرې هم دا نۀ خوښوي چې څوک دې ورته دغه څېزونه ورياد کړي. دلبر خان ته به د خپل پرهېزګاره ورور ټول کړۀ وړۀ، خبرې او خويونه د کرکجن نفرت، بغض، حسد او انتقام د جذبې نه ډک ښکارېدل او خيال ئې دا ؤ چې په هغۀ کښې دا هر څۀ تش د دۀ د خفه کولو او په عذابولو دپاره دي. دلبر خان خپل دغه ويره زړي او حسدي ورور د کلي د حجرې او جرګې نه جومات ته شړلے ؤ. دلبر د کلي خان منلے کېدو او د هغۀ دغه ورور د کلي تر ټولو ديندار او مونځ ګزاره سړے ګڼلے کېدو. دلبر خان به ښکارونه، جوارۍ او محفلونه کول او يارانو دوستانو له به په دعوتونو او جشنونو کښې مست ؤ. د هغۀ ديندار ورور به روژې، مونځونه، وظيفې او نوافل کول او په غټو غټو ټکو کښې به ئې د وړو وړو نېکو تبليغ کوو. دلبر خان دپاره دا يو ښۀ بندوبست ؤ خو اخر دغه توازن خراب شو. د دلبر خان ترېور قربان خان د جېل نه راخلاص شو



او کلي ته راغے. قربان د هغۀ د مرګ په الزام کښې کوم چې هغۀ نۀ ؤ کړے د عمر قېد سزا تېرولو نه پس اوس ازاد شوے ؤ او کلي ته واپس راغے. قربان خان نامتو بلکې بدنام جنګيالے او نر ځوان ؤ او په کلي کښې به بله خبره نۀ وه خو د هغۀ د مړانې، نرتوب او ښائست قيصې وې. په يوه جګړه کښې قربان په خپل ترۀ، د دلبر خان په پلار باندې ډز کړے ؤ چې د هغۀ پښه لګېدلې وه او نور بچ شوے ؤ. دغه بوډا قربان معاف کړے ؤ (ځکه چې د هغۀ نه دغه ډز په غلطۍ کښې شوے ؤ) خو رواج لا هغه نۀ ؤ معاف کړے، وينه بهېدلې وه او هغې وينې د

قربان او یا د هغهٔ د پلار یا ورور د وینې تویولو د پاره چغې وهلې.

قربان خان فکر کوو چې دغه څوارلس کلن سخت قېد د هغهٔ د جرم یا غلطۍ ښه پوره سزا وه او اوس د دغه سزا تېرولو نه پس هغه پاک شوے دے. هغه چې د جېل نه راووتو نو یو پاک، نېک، ایمانداره او مینه ناک سړے ؤ، کلیوال د هغهٔ هرکلي ته په دې امېد راغونډ شوي وو چې هغوي د دغه نوموړي اتل او جنګیالي دیدن وکړي خو هغوي د قربان په صورت کښې یو ساده باده، پوست، شېرین، مینه ناک او مهربانه سړے ولیدو. د کلي خلقو د هغهٔ د مړانې او نرتوب واقعات رایادول او د هغهٔ سترګو ته ئې کتل او ټولو په هغه ډېره مینه راتله.

د وخت تېرېدو سره سره د دلبر خان د حجرې ګڼه ګوڼه او شور شغرب کمېدو او د قربان خان حجره ابادېده. دلبر خان هغه شان بې دریغه خرچې کولې، ښکارونه، ډوډۍ ګانې او دعوتونه ئې هم ښهٔ زیات کړل او بې دریغه قرضې ئې هم اخستې. خو د دې هر څهٔ د پاسه هم د کلي هغه ټول کسان، کوم چې دلبر خان په خپله حجره کښې لیدل غوښتل، هغوي به ټول د قربان خان په حجره کښې ناست وو. دلبر به د کلي په خلقو ډوډۍ خوړه، هغهٔ چې به په خپله حجره کښې ناست هغه خلقو ته کتل کوم چې به د دهٔ په دسترخوان د ګډ او چېلو په ورتو غوښو اړام وو نو دے به پوهېدو چې دا خلق د دهٔ حجرې ته تش د ګډ او چېلو په غوښو پسې راځي. د هغهٔ لیدو یا صحبت له نهٔ. بل خوا ته کهٔ د قربان خان په حجره کښې به ډوډۍ هر څومره ساده او معمولي شان وه خو د هغهٔ مېلمانهٔ به زیات

طاقتور او وفاداره او نوکران به ئې زیات زړور، ایمانداره او کارګر وو. دلبر خان د قربان د مُسکي مخ او ساده خو مینه ناک سخاوت نه سخت نفرت کوو ځکه چې په کلي کښې د قربان د نوم شهرت د هغهٔ د نوم ورکېدهٔ او د قربان د حجرې ابادېدهٔ او د دهٔ د حجرې شاړېدهٔ وو.

بیا شېر خان را لوئے شو او یو غټ کټ، تکړه ښائسته ځلمے ترې نه جوړ شو. دلبر خان چې به د هغهٔ روښانه شنو سترګو ته وکتل نو وبه رپېدو، هغهٔ به اورېدل چې د شېر د حجرې نه د ځلمو هلکانو مست، مینه ناک او سندریز اوازونه راتلل خو په خپله د هغهٔ په حجره کښې د یو څو بوډاګانو د ټوخېدو او غاړه تازه کولو نه بغېر بل څهٔ اواز نهٔ راپورته کېدو. هغهٔ به په خپله تماچه لاس ووهلو او د خپل پینځه کلني زوئي سترګو ته به ئې وکتل او وئیل به ئې " دلاوره، زما بچیه! تهٔ به په هرحال کښې د دې کلي خان جوړېږې او کهٔ د دې د پاره هر څهٔ کول وي زهٔ به ئې کوم".

یوه ورځ دلبر خان خپل وراره شېر خان د غرمې ډوډۍ له خپل کور ته راوستو. یوه تماچه ئې ورله ډالۍ ورکړه (د یو پښتون ځلمي د پاره بهترینه ډالۍ ښه وسله ده) په ډوډۍ هغهٔ د شېر سره داسې په مینه مینه خبرې اترې او خنداګانې وکړې لکه چې شېر د هغهٔ برابر او همځولے وي. دې خبرو شېر خان له ډېر خوند او خوشحالي ورکړه ځکه چې هغه خو ټول عمر د خپل متقي او پرهېزګاره پلار د سنجیدګۍ او تقويٰ عادت ؤ. د شېر خان د خپل ترهٔ سره ډېره مینه پیدا شوه. دلبر خان هم په خپل خوږ وراره بې دریغه روپۍ پېسۍ خرچ کول شروع کړل. د شېر ملګرو له به ئې ګډان

او چېلۍ حلالولې او د خپلو دښمنو، جګړو او ورانکارو خوندورې قيصې به ئې ورته کولې. د شېر پېژندګلو او ملاقاتونه به ئې د لويو لويو خانانو سره کول او هغه به ئې د ځان سره لرې لرې کلو بانډو او غرونو ته ښکار او سېل له بوتلو. هغه به د شېر سره داسې مينه او سلوک کولو لکه هغه ئې خپل زوئے وي او د هغۀ خبرې او مشورې به ئې داسې په سنجيدګۍ او غور اورېدې لکه چې يو خوږ دوست او همځولے ئې وي. د هغۀ د ارام او راحت پحقله به ئې ډېره فکرمندي ښکاروله. د هغۀ په کم عقلو او ناپوهتياوو به مُسېدو او د هغۀ په هره ټوقه او لطيفه به ئې په برق برق خندل. لنډه دا چې دلبر خان به هر هغه کار کوو کوم چې د شېر په زړۀ کښې د هغۀ دپاره احترام او مينه پېدا کولې شوه. هغه په خپلو دغو هلوځلو کښې کامياب شو. شېر هم د خپل ترۀ مشرواله او عمر هېر کړو او داسې مينه او ملګرتيا ئې ورسره شروع کړه لکه هغه چې ئې همځولے او خوږ دوست وي.

کله چې دلبر خان ته يقين وشو چې اوس هغۀ د شېر خان په زړۀ کښې دومره ځائے جوړ کړے دے چې د دۀ په هره خبره به يقين کوي نو د هغۀ د نيکۀ قيصې ئې ورته شروع کړې او د هغۀ د مهربانه مينه ناک او دروند خوئي او سخاوت او سړيتوب او غټ زړۀ مثالونه به ئې ورته وئيل. دلبر خان د شېر د بوډا نيکۀ تصوير هم د هغه رنګونو نه جوړوو کوم چې د شېر خان خوښ وو او کله چې دلبر خان پوه شو چې اوس شېر په خپل ناليدلي نيکۀ باندې ښېخي زيات مئين شوے دے نو يوه ورځ ئې ورته قيصه وکړه چې څنګه يوه ورځ قربان د هغۀ د دغه سپين ږيري نيکۀ بې عزتي کړې وه او ډز ئې پرې کړے ؤ. د دلبر غشے په نخښه ولګېدو او د شېر په زړۀ کښې د قربان خان نه سخت نفرت او قهر راپېدا شو. هغۀ خپل ترۀ ته ووې " خو ما خو اورېدلي وو چې د قربان نه دغه ډز په غلطۍ شوے ؤ، دا خو يوه حادثه وه" دلبر خان ورله د طنزيه مسکا سره جواب ورکړو " حادثه؟ شېر خانه دا حادثه مادثه نۀ وه، خو دغه رنګ ورله ځکه ورکړے شو چې سړے کمزورے او نا زړۀ وي او د خپلې ذمه دارۍ پوره کولو حوصله او توان نۀ لري نو دغه بهانه ورله جوړه کړي. شېر خانه زويه! خبره داسې وه چې هغه وخت زۀ ماشوم ؤ او ستا پلار مشر ؤ خو هغه ډېر بې زړۀ او کمزورے ؤ ځکه مونږ د قربان نه بدل نۀ شو اخستے.

چې دا ئې واورېدل نو د شېر شونډې د قهر او نفرت نه راغونډې شوې " د خپل پلار د بې عزتۍ بدل ئې هم نۀ شو اخستے؟ دغه بدل به زۀ اخلم"! د شېر خان په دغه وېنا دلبر خان ډېر په چُرت کښې شو، شېر ئې ځان ته راترغاړه باسو او ورته ئې ووې" شېر خانه منم! په دې کار کښې به درسره زۀ هم ولاړ يم، کۀ تا دا کار وکړو نو په انعام کښې به درله زۀ د کيندار کلے درکړم". شېر ورته ووې "کاکا! زۀ به تا ته وښيم چې زۀ د خپل نيکۀ د بې عزتۍ بدل څنګه اخلم".

دغه شپه چې شېر په کټ کښې ملاست ؤ نو هغۀ د خپلو نزدې او اعتباري ملګرو، د کيندار کلي د زمکو د امدن او د خپل نيکۀ پحقله سوچونه کول او خوا ته ورسره ملاسته خپله ښېغله ښځه ئې هېره وه. دا يوه توره، يخه، باراني او طوفاني شپه وه. قربان خان په خپله حجره کښې د اور په غاړه ناست ؤ او خپلو ملګرو او نوکرانو ته

ئې زړې قيصې کولې"، تاسو ته خو پته ده چې ځواني ځومره ناپوهه او بې عقله وي. زۀ هم په هغه ورځو کښې ځوان وم او ما به ګمان کوو چې دا ټوله دنيا بس هم ما له جوړه ده او زما ده. چا کۀ به زما د خبرې نۀ منلو او زما سره د اختلاف کولو جرات کوو نو ګويا خپل ژوند به ئې په خطره کښې اچولو. يو ماښام زنګي په څۀ خبره زما سره خلۀ ووهله. مونږ شر وکړو او ما قسم وخوړو چې زنګيه! وژنم به دې. بله ورځ پسې زۀ خپل قسم پوره کولو له لاړم او ډز مې پرې وکړو خو زنګي بچ شو او له بده مرغه زما ترۀ ولګېدو چې زۀ خبر شوم چې ما زنګي نه بلکې خپل بوډا ترۀ ويشتلے دے نو دومره شرمنده او خفه شوم چې ما وې ځان وژنم خو ترۀ له مې دې خدائے جنتونه ورکړي، هغه اصيل سړي زۀ معاف کړم خو بيا داسې وشوه چې يوه مياشت پس ناڅاپه زنګي چا وويشتو او مړ ئې کړو، د هغۀ ورونړو د مرګ دعوٰي په ما وکړه. جج په ما شل کاله جبل وخېژوو ځکه چې ما مياشت مخکښې په ډک بازار کښې زنګي ته د وژلو ګواښ کړے ؤ او په کلي کښې زۀ په دې مشهور وم چې څۀ ووايم نو هغه کوم هم. خو ما هيڅ ګيله فرياد يا احتجاج ونۀ کړو. د زنګي په نوم ما د خپل ټول عمر د ټولو وړو لويو ګناهونو سزا او کفاره ادا کړه".

" يره خان" غلام ورته ووې " کۀ هر څۀ وي خو بيا هم خپل احتياط او حفاظت کوه".

قربان خان د غلام په خبره مسکے شو او وې وئيل " مرګ به ئې اخري قيمت وي خو زۀ د دغه قيمت ادا کولو نه هم نۀ ويرېږم او تيار يم ورته".

دغه وخت حجرې ته دوه مېلمانۀ رانننوتل. دوي ناشنا وو او ټوپکې ئې په غاړه وي. قربان ورته وکتل، ورپاڅېدو او مسکے شو " په خير راغلئ مېلمنو! هر کله راشئ" هغوي د سلام دعا نه پس ووې چې د پاتا کلي نه راغلي دي. اسپه ئې ورکه شوېده او دوي په هغې پسې ګرځي، شپه پرې راغله نو دلته حجرې ته راغلو.

اوس شپه په پخېدو وه، د قربان ملګري او دهقانان نوکران وار په وار پاڅېدل او خپلو کورونو ته لاړل. قربان هم پاڅېدو او د دې وېنا سره کور ته لاړو چې " مېلمنو زۀ ګورم چې څۀ ئې ستاسو په قسمت کښې ليکلي وي چې هغه درله راوباسم" لږه شيبه پس چې هغه بېرته راغے نو ورسره يو لوئے پتنوس ؤ چې د لوښو نه ډک ؤ او د هغۀ سترګې د خندا او مينې نه ډکې وې" ملګرو چې څۀ په کور کښې وو هغه حاضر دي. راځئ ډوډۍ وخورئ" هغۀ خپلو مېلمنو ته ډېر په اخلاص ووې يو مېلمه خپل ټوپک راپورته کړو او قربان ئې په ښې سترګه وويشتو. دوېم ملګري ئې ورله په سر او وُلو ډزې وکړې. د قربان د لاس نه ډوډۍ پرېوته او ورپسې په خپله هم زمکې له راغے.

دواړه مېلمانۀ په منډه د حجرې نه ووتل بهر ورته شېر خان په انتظار ولاړ ؤ دوي ورته ووې چې خان کار دې وشو بيا درې واړه په باغونو او پټوکښې پټ پټ وتښتېدل. يو ځائے ئې د وړاندې نه اسونه تيار تړلي وو، په هغوي سوارۀ شول او لاړل وتښتېدل.

بله ورځ شېر بېرته کلي ته راغے او د خپل ترۀ په جنازه کښې شريک شو. په دغه دوران کښې دلېر خان د قربان د ورونړو خوا له تلے ؤ او قسم ئې ورته خوړلے ؤ چې ستاسو ورور، قربان خان زما ورارۀ شېر وژلے دے. په دې چال دلېر خان خپلې دې منصوبې ته لاره سمه کړه چې قربان او شېر، دواړه له مينځه

ورک کړي او خپل زوئي دلاور ته د کلي د خانۍ میدان خوشے کړي.

د قربان خان ورونړو په شېر د مرګ دعوٰي وکړه په هغۀ څوارلس کاله جېل وختو. په جېل کښې شېر یو قلار طبع او شریف قېدي ثابت شو. اووۀ کاله پس هغه راخلاص شو د جېل نه چې راووتو نو هغه د مخکښې نه هم زیات مضبوط، زورور او مغروره ؤ.

دلبر خان شېر له د جېل نه د راخلاصېدو په خوشحالۍ کښې ډوډۍ وکړه. شېر ورله لاړو ځکه چې نه ئې غوښتل چې خپل هغه ترۀ ته خپل نفرت او قهر ښکاره کړي چا چې د دۀ مینه او اعتبار د دوکه کولو او بربادولو دپاره استعمال کړي وو. شېر په خپل چالاکه ترۀ نور څۀ ظاهر نۀ کړل خو د کیندار کلي غوښتنه ئې ترې نه وکړه د کوم چې ورسره دلبر وعده کړې وه. دلبر سترګې بدلې کړې او صفا انکار ئې وکړو، هغۀ شېر ته ووې چې د قربان کورنۍ ډېره بااثره او طاقتوره ده او کۀ دلبر هغه کلے شېر له ورکوي نو د قربان د ورونړو دښمني ورترغاړه کېږي ځکه چې دغه کلے د هغوي د شریکې جائیداد دے. شېر چې د خپل ترۀ ښکاره انکار واورېدو نو ډېر په قهر او کرکه ئې ورته وکتل او بیا ئې داسې ووئیل" تا په ما خپل ترۀ مړ کړو او اوس د خپل لوظ نه منکر شوې خو په خدائے مې دې قسم وي چې تۀ به هم د دې دوکې قیمت ادا کوې" دلبر خپلې تماچې ته لاس یوړو او جواب ئې ورکړو" زۀ د خپل ورور د مرګ په بدل کښې د هغۀ قاتل له خپله زمکه چرته هم نۀ شم ورکولے. شېرخانه تا په جېل کښې ډېر کلونه تېر کړل. دې کلونو تۀ هم اوس هوښیار کړے ئې خو زۀ هم. زۀ د خپلې هلکوانۍ کم عقلۍ او غلطۍ اوس په دې پوخ عمر کښې نۀ شم منلے. زما خوږه ورارۀ تا جوړې هغه متل هېر کړے دے چې پښتون خپل سر ورکوي خو خپله ښځه او زمکه چا له نۀ ورکوي. ځکه چې دا دواړه د سړي عزت وي.

شېر په خبره پوه شو هغۀ د دلبر خان د کوره بېرته راغے او انتظار ئې شروع کړو. هغۀ په درې میاشتو کښې یو هلک له دا تربیت ورکړو چې په دلبر به څنګه رسا ډز کوي او بیا یوه ورځ ناڅاپه په کلي کښې خبر خور شو چې دلبر په داسې حال کښې وژلے شوے دے چې لاس ئې په خپله تماچه پروت ؤ. شېر خان د هغه ورځې راسې مفرور دے. اوس هغه په علاقه غېر کښې د قبائلو په یو کلي کښې د سختو، کړاوونو، خطرو او غواوو غوشانو په مینځ کښې ژوند تېروي. د هغۀ په اواز کښې اوس هغه پخوانے ترنګ، زور او ژوروالے نشته او نۀ ئې اوس په سترګو کښې هغه رڼا، غرور او سرکشي شته. پېنځلس کاله یو اوږد عمر دے او د تنهایۍ، سختو او مفرورتیا پنځلس کاله خو لا زیات اوږدۀ وي. په دغه پېنځلس کاله کښې د شېر دننه دنیا ورانه او تالا شوې وه اوس هغۀ سوال زاري او منت کول زده کړي وو، اوس هغه ښکار نۀ کوي ځکه چې اوس هغۀ ته احساس شوے دے چې څوک ښکار کېږي نو په هغۀ څۀ تېرېږي. اوس شېر هم د قربان خان په شان په زړۀ نرم او مینه ناک شوے دے.

خو دا قیصې دلته نۀ ختمېږي قربان هم یو زوئے لري چې اوس راځلمے شوے دے. هغه یو ښکلے، نر، زړور او مغروره ځوان دے او کۀ څۀ هم شېر خان ډېر زړور خطرناک او طاقتور سړے دے خو د قربان خان زوئے د دۀ نه نۀ ویرېږي. یوه ورځ به دغه دواړه ترۀ او ورارۀ مخامخ شي او بیا بدل او مرګ، مرګ او بدل او د مرګونو یوه تل عمري او نۀ ختمېدونکې سلسله. دا قیصه به روانه وي.